# <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## «تر هرڅه وړاندې اقتصاد»؛ یوه حیله چې واکمنان خپله بې کفایتي پرې توجیه کوي

(ژباړه)

د ۲۰۲۳م کال، د مې میاشتې په ۲٦مه، د پاکستان مالیې وزیر د نړیوالو مالي تعهداتو ترسره کولو لپاره د امریکا سفیر ته د پاکستان د عوایدو او لګښتونو اړوندو پلانونو په اړه معلومات ورکړل. د پاکستان چارواکي له خپل بادار څخه د تاییدۍ په ترلاسه کولو، اوس یوه بله استعماري بودیجه برابروي چې زموږ اقتصاد به نور هم کمزوری کړي. پر دې سربېره، کله چې له دغو حکامو څخه د اسلامي امت په مخ کې شته ستونزو په اړه پوښتنه کېږي؛ دوی وايي چې لومړی باید د اقتصادي ستونزو د حلولو له لارې خپل هېواد جوړ کړو. د کشمیر د نه ازادولو او د هند پر وړاندې جدي چلند نه کولو لپاره هم همدا پلمه کوي. دغه واکمنان ادعا کوي چې لومړی باید اقتصادي ثبات ته ورسېږو بیا مهم مسایل حل کړو. سره له دې چې زموږ د اقتصادي ستونزو اصلي سبب غربي استعمار دی؛ زموږ واکمنان له هغه څه پرته چې امریکا، د پیسو نړیوال صندوق او تر واشنګټن وروسته اجماع (هغه چې تر واشنګټن اجماع وروسته وشوه/post-Washington Consensus ) یې امر ورته کېږي؛ خلکو ته د وړاندې کولو لپاره هېڅ نه لري. نو د ناروغۍ له سبب څخه د درملنې غوښتنه بې عقلي نه ده؟ دغه بې عقلي هغه وخت په جنون بدلېږي چې زموږ د کړاوونو سبب هماغه زهر یو ځل بیا د درملو او «نسخو» په پوښ کې راکړي چې لومړی ځل کارول یې زموږ د اقتصادي ناورین سبب شول.

هغه کسان چې د اقتصادي ثبات په ترلاسه کولو کې مخلص دي؛ باید د پشتوانې نه لرونکې پیسې، سودي پورونه او مالي تامینات، د عامه سرچینو خصوصي کول، نړیوال بیرته راګرځېدونکي مالیات (یا قهقرایي مالیات چې ټیټ عاید لرونکې کورنۍ تر لوړ عاید لرونکو هغو ډېره مالیه ورکوي)، د خصوصي سکټور په رهبرۍ د پانګونې صنعت وده او بهرنۍ مستقیمه پانګونه روښانه کړي. دوی باید د دغو ستونزو ریښتینې حللاره هم روښانه کړي. دغه پالیسۍ نه یوازې دا چې زموږ د شتمنۍ او سرچینو د غلا کولو لپاره د استعمارګرو وسیلې دي؛ بلکې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د وروستي پیغمبر صلی الله علیه وسلم له اوامرو ښکاره سرغړونه ده. په حقیقت کې، هغه چارواکي چې د "تر هر څه وړاندې اقتصاد" استدلال کوي، پر هغه لار نه دي روان چې د اقتصادي ثبات لامل کیږي. ځکه خو زموږ وضعیت کال په کال لا خرابېږي. څو چې دا ټولې لارې پرې نه ږدو او د الله سبحانه و تعالی له لوري ټاکل شوې مستقیمه لار باندې روان نه شو، وضعیت به همداسې د لا خرابېدو لوري ته روان وي.

د اقتصادي ثبات پر لوري لار له دې پيلېږي چې د اقتصادي چارو په ګډون، د ژوند په ټولو چارو کې اسلام پلی کړو. پيل يې له دې کېږي چې اسلامي اقتصادي پاليسۍ او سياستونه د پانګوالو هغو ځايناستې کړو. اسلام دا الزامي کوي چې د کرنسۍ سټنډرډ سره او سپين زر وي؛ پر عايداتو ماليه، پر پلور ماليه او عمومي ماليه نه وي؛ په مالي تامين کې سود نه وي؛ عامه ملکيتونه لکه نفت او ګاز عامه پاتې شي؛ د پانګونې صنعت وده د دولت په رهبرۍ وشي او له مستقيمې بهرنۍ پانګونې خپلواکي ترلاسه کړو. يوازې اسلام کولی شي چې موږ د ډالرو له شر او زموږ پر اقتصاد د استعمار له واکمنۍ خلاص کړي؛ د دې تر څنګ اسلام له بېوزلو سره لويه مرسته کوي او کرنيز او صنعتي توليدات پياوړي کوي.

هغوی چې د اقتصادي خپلواکۍ په غوښتلو کې مخلص دي؛ بايد پوه شي چې په دنيا او آخرت زموږ د بدبختيو د ختمولو يوازينۍ لار د خلافت له لارې د اسلام پلي کول دي. په حقيقت کې، له اسلام پرته راحت نشته؛ يوازې ستونزې او سخت ژوند دی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى]**

**ژباړه:** *«او څوک چې زما له ذکر (د نصيحت له درس) څخه مخ واړوي، د هغه لپاره به په دنيا کې تنګ ژوند وي او د قيامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو.»* [طه: ۱۲۴]

نو اې مسلمانانو! د نبوت پر منهج خلافت بيا تاسيس کولو لپاره له حزب التحرير سره ګډ کار وکړئ.

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ذوالقعدې ۱۲مه**

**۲۰۲۳م کال، د جون ۱**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۴/۳۹**

ژباړه: فريدون محتاط